# <u>مطبوعاتي اعلاميه</u>

## د مسلمانې ښځې لپاره د هغې د ډال؛ خلافت په نشتون کې سل کاله تيارې، سپکاوی او نهيلي

دا رجب د اسلامي امت په تاريخ کې يو بل مهم پړاو رايادوي ـ زموږ د غوره دولت او اسلامي مشرۍ د راپرځېدو ۱۰۰ کاله پوره شول؛ هغه دولت چې د اسلام د دښمن مصطفي کمال او غربي استعماري حکومتونو په لاس ړنګ شو. دې ناورين دمسلمانو ښځو، ماشومانو او کورنيو پر ژوند ناوړه اغيزه وکړه، ځکه چې دوی يو داسې دولت له لاسه ورکړ چې تل د دوی د حقونو، عزت او هوساينې ساتونکی و. رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي:

**«الْإِمَامُ رَاعٍ وَهُوَ مَسْئُولٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ»**

**ژباړه:** *«امام د شپون په څېر دی او د خپل رعيت مسوليت لري»*

په تېرو سلو کالو کې، د خلافت په نشتون کې، د مسلمانو ښځو ژوند له مرګ، ويجاړۍ، سپکاوي، بې وسۍ او نهيلۍ‌سره مخ دی. دوی او ماشومان يې د استعماري جګړو اصلي قربانيان دي او په اسلامي خاورو کې د غرب په ملاتړ د سيکولر ديکتاتورانو ظالم حاکميت او وحشيانه اشغال د مسلمانانو نسل وژني. کله چې اسلام حاکم و، هغه وخت د مسلمانې ښځې د ساتنه او هغې ته پاملرنه اصلي مسله وه، حاکمانو يې د عزت د ساتلو لپاره لښکرونه لېږل... نن په داسې يوه نړۍ کې ژوند کوو چې خلافت نشته او مسلمانې ښځې ځورول کېږي، له لوږې سره لاس او ګرېوان دي، زنداني کېږي، شکنجه ورکول کېږي، جنسي تېری پرې کېږي او د اسلام د دښمنانو له لوري قرباني کېږي. د دوی د مرستې لپاره نه يوازې دا چې هېڅ لښکر نه بسيج کېږي، بلکې هېڅ دولت چمتو نه دی چې د دوی عزت وساتي.

سربېره پر دې، د اسلامي قانون په نشتون کې، اسلامي خاورې د ښځو پر وړاندې د لوړې کچې تاوتريخوالي او د هغوی د ناموس پر وړاندې له سرغړونې سره مخ شوې دي. د غربي ليبرال ارزښتونو د شتون له امله يې د بد اخلاقۍ، ماديت پالنې او فساد له ډېروالي سره مخ کړې دي، تر څو د ځوانانو ذوقونه مسموم کړي او له خپل دين څخه يې وباسي. د دې ليبرال ارزښتونو راوړل، د اسلام ټولنيز او کورني قوانين ګډوډ کړي دي او د کورنيو د پاشل کېدو لامل شوي دي، چې په پايله کې ښځې، سړي او ماشومان له يو ډول ستونزو او کړاوونو سره لاس او ګريوان دي. سربېره پر دې، د اسلامي نظام په نشتون کې، د دغو بې کفايته او فاسدو رژيمونو تر حاکميت لاندې، ښځې له هغو حقونو بې برخې دي چې الله سبحانه و تعالی ورکړي دي؛ لکه په لوړ کيفيت زده کړې، روغتيايي پاملرنې او ... . همدا راز، د خلافت په له منځه وړلو سره، ښځې له يو داسې دولت څخه بې برخې شوې چې د دوی مالي

لګښتونه او امنیت یې تامین کړی و. اوس له مجبورۍ د ځان تمویل پخپله کوي، ډېری وختونه ناوړه اعمال تر سره کوي او په لارو او کوڅو کې سوال کوي یا هم د خپل ځان د بقا لپاره له کثافاتو څخه د خپل ګېډې د مړولو لپاره ګټه اخلي. دوی د دولت په نشتون کې له هغو ټولو امتیازاتو څخه بې برخې دي چې دوی ترې ګټه اخیسته او د ځمکې له سر څخه یې د بېوزلۍ لمن ورټوله کړې وه، هغه دولت چې د خلکو لپاره یې سوکالي راوړې وه، لومړنیو زده کړو ته یې لاره هواره کړې وه او د روغتیایي خدماتو لپاره یې تاسیسات رامنځ ته کړي وو، چې ښځینه او نارینه ترې ګټه پورته کړي. په حقیقت کې؛ د ډال، خلافت په نشتون کې، هغه رنځونه، کړاوونه او زیانونه چې ښځو زغملي دي، بې ساري او له زغم وتلي دي.

له همدې امله، دا کمپاین د هغه نړیوال کمپاین برخه ده چې د حزب التحریر له لوري د حزب د امیر، جیید عالم شیخ عطا بن خلیل ابو الرشته په لارښوونه تر *«د خلافت له راپرځېدو یوه پېړۍ وروسته... اې مسلمانانو، خلافت تاسیس کړئ!»* سرلیک لاندې پیل شوی دی. د حزب التحریر مرکزي مطبوعاتي دفتر کې د ښځو برخې خپل نړیوال کمپاین په همدې رجب میاشت کې پیل کړی دی، تر څو د نړۍ په کچه د مسلمانو ښځو په ژوند کې د خلافت د له منځه وړلو له امله له درد او غم څخه ډکې پېښې روښانه کړي او همدا راز هغه لیدلوری وړاندې کړي چې د ښځو رښتیني حقوق، رول او حیثیت، چې راشده خلافت یې د اسلامي قانون په چوکاټ کې غوښتنه کوي بیان کړي، تر څو د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي په اړه ډېرې غلط فهمۍ او دروغ له منځه یوسي. په دې مبارزه کې موږ، د حزب التحریر د ښځو برخه وایو چې نور د ظلم او زغم ۱۰۰ کلونه بس دي! موږ اړتیا لرو چې د اسلامي امت د تاریخ دا تیاره څپرکي ته د پای ټکی کېږدو. اې مسلمانانو! موږ له تاسو څخه غواړو چې د دې مهم کمپاین ملاتړ وکړئ او له هغو کسانو څخه شئ چې د دویم راشده خلافت د تاسیس لپاره یې دالله سبحانه و تعالی په مرسته ملا تړلې ده!

**کمپاین په لاندو پتو راسره وڅارئ:**

http://www.hizb-ut-tahrir.info/en/index.php/hizbuttahrir/20797.html

**فسبوک پاڼه:**

https://www.facebook.com/womenscmoht/

| | |
|---|---|
| #ReturnTheKhilafah | **#أقيموا_الخلافة** |

| | |
|---|---|
| #YenidenHilafet | #خلافت_بیا_تاسیس_کړئ |

**ډاکټر نسرین نواز**

**د حزب التحریر- مرکزي مطبوعاتي دفتر د ښځو برخې مشره**

**۱۴۴۲هـ.ق کال، د رجب ۱**

**۲۰۲۱م کال، د فبرورۍ ۱۲مه**

**د صدور ګڼه: ۰۲۳/ ۱۴۴۲**